د افغانستان اسلامي امارت

ستره محکمه

د دارالانشاء عمومي رياست

د تحريراتو آمريت

د متحدالمآلونو څانګه

عاجل ☐ عادی ☐ اطمینانیه ☐ ابلاغیه ☐ سایر ☐

د متحدالمآل ګڼه: ۳۴

نېټه: ۱۴۴۴/٤/۲۹ هق

د افغانستان اسلامي امارت د تميز ونو ، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: په تاريخ ۱۴۴۴/٤/۲۱هق چې د ۱۴۰۱ هجري لمريز کال د عقرب مياشتې د پنځه ويشتمي (۲۵) نيټې سره سمون خوري، د افغانستان اسلامي امارت د ستري محکمې د رئيس او قاضي القضاة محترم الشيخ عبدالحکيم "الحقاني" صاحب په مشرۍ د ستري محکمې د عالي شورا غونډه دائره شوه چې د ياد مجلس دوهمه موضوع داسي وه: ((د کابل ولايت په مرکز کې د نشه ئي توکو او مسکراتو څخه د مخنيوي ابتدائيه محکمه فعاله ده، آيا دغه محکمه يواځي د کابل ولايت د مخدره توکو اړوند موضوعات بررسي کړي او که د ټولو ولايتونو د مخدره توکو اړوند موضوعاتو د بررسۍ صلاحيت لري؟))

د ستري محکمې عالي شورا د پورته ذکر شوي موضوع په اړه د تصويب نمبر(۱٤) مورخ ۱۴۴۴/٤/۲۱هق د دوهمي پريکړې په اساس داسي هدايت وکړ: ((په مرکز کابل کې د نشه ئي توکو او مسکراتو څخه د مخنيوي ابتدائيه محکمه يواځي د کابل ولايت د مخدره توکو د موضوعاتو د حل او فصل صلاحيت لري.

په نورو ولايتونو کې د مخدره توکو د موضوعاتو د حل او فصل صلاحيت د اړونده ولايت د شهري محکمې د امنيت عامه ديوان سره دی، البته په مرکز کابل کې دې د زونونو امنيت عامه ديوان ياد موضوعات نه اخلي.))

بناءً د افغانستان اسلامي امارت د ستري محکمې د عالي شورا پورته تحرير شوی هدايت د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د ستري محکمې مربوط رياستونو، تميزونو، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو ته واستول شو تر څو د هغې په رڼا کې شرعي او اصولي کړنې تر سره شي.

په درنښت

۲۹ / ٤ / ۱۴۴۴ هق

مفتي عبدالرشيد "سعيد"

د ستري محکمې

د دارالانشاء عمومي رئيس

ستره محکمه
رياست عمومی دارالانشاء

Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: 0202301138
Post box: 1989
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لارې، نهمه ناحيه، کابل- افغانستان
تيلفون : ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
پست بکس : ۱۹۸۹
secretariat@supremecourt.gov.af